# مُعَقِّبَاتٌ لَا يَخِيبُ قَائِلُهُنَّ -أَوْ فَاعِلُهُنَّ- دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ، ثَلَاثٌ وَثَلَاثُونَ تَسْبِيحَةً، وَثَلَاثٌ وَثَلَاثُونَ تَحْمِيدَةً، وَأَرْبَعٌ وَثَلَاثُونَ تَكْبِيرَةً». «د هر فرض لمانځه پسې داسې تعقيبي دعاګانې شته چې ويونکی - يا کوونکی- به يې نامراده نه شي - درې دېرش ځلې سبحان الله، درې دېرش ځلې الحمد لله او څلور دېرش ځلې الله اکبر ويیل

له کعب بن عجره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمایل: «مُعَقِّبَاتٌ لَا يَخِيبُ قَائِلُهُنَّ -أَوْ فَاعِلُهُنَّ- دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ، ثَلَاثٌ وَثَلَاثُونَ تَسْبِيحَةً، وَثَلَاثٌ وَثَلَاثُونَ تَحْمِيدَةً، وَأَرْبَعٌ وَثَلَاثُونَ تَكْبِيرَةً». «د هر فرض لمانځه پسې داسې تعقيبي دعاګانې شته چې ويونکی - يا کوونکی- به يې نامراده نه شي - درې دېرش ځلې سبحان الله، درې دېرش ځلې الحمد لله او څلور دېرش ځلې الله اکبر ويیل -».

[صحيح] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغو دعاګانو په اړه خبر ورکوي چې ويونکی به يې نه تاواني شي او نه به پښېمانه شي، بلکې د دې کلمو اجر ورته شته. او ځينې يې د ځينو نورو پسې د فرض لمانځه پسې ويیل کيږي: ۳۳ ځلې «سُبْحَانَ اللهِ» يعني الله تعالی له ټولو نيمګړتياوو پاک دی. او "الحمد لله" درې دېرش ځلې، چې دا له پوره محبت، عظمت او بشپړ کمال سره د الله تعالی يادول دي. او څلور دېرش ځلې "الله اکبر" نو الله جل جلاله لوی، عظيم او له هر شي نه زيات د عزت خاوند ذات دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6259